RAWADARI · رواداری

## د افغانستان د بشري حقونو

# ځپل او شاتګ



۲۴ زمری ۱۴۰۰- وری ۱۴۰۱



## د رواداري بنسټ په اړه

رواداري يو خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې پر بشر حقونو د څارنې، په افغانستان کې د بشر حقونو د کلتور د پراختيا، حساب ورکوونې، او د قرباني محوره عدالت د فرهنګ د تامينولو په موخه رامنځته شوی. دا بنسټ د بې پرېتوب د اصل په بشپړ رعايت او د بشر حقونو اړوندو ټولو منل شويو نړيوالو اصولو او معيارونو ته په درنښت، خپلې چارې پر مخ وړي، چې دغه راپور هم په همدې موخه د بشر حقونو د سرغړونې پېښې، څرنګه چې پېښې شوې دي، په رېښتينولۍ سره خپروي.

# د مطـــالبو لړلیک


پیژندنه ۴

د معلوماتو راټولولو تګلاره ۵

لومړۍ برخه
د بشري حقونو وضیعت ۶

دوهمه برخه

د نړیوال بشردوستانه حقونو سرغړوني ۱۶

دریمه برخه

پایله او وړاندیزونه ۱۹

## پېژندنه

دغه راپور پر هغو ډېرو مهمو پېښو او د بشر حقونو د سرغړونو پر مواردو راڅرخي، چې د طالبانو د يو کلن حکومت پر مهال د (۱۴۰۰ هجري لمريز د زمري له ۲۴مې څخه د ۱۴۰۱ لمريز کال د زمري تر ۲۴) پورې په افغانستان کې پېښې شوې دي. يادې پېښې د بشر حقونو او نړيوالو بشرپالو حقونو څخه د سرغړونې تر ټولو مهم موارد دي چې د هېواد په ۲۹ ولايتونو کې پېښې شوې او د رواداري بنسټ له خوا په منظمه او دوامداره توګه مستند شوي دي. دا راپور په ځانګړې توګه د ژوند حق، د انساني کرامت د حق نقض، خپلسري نيونې، عدالت ته د لاسرسي وضعيت، د بيان او رسنيو د آزادۍ د حق نقض، د سوليېزو راټوليدنو د حق نقض، د صنفي ټولنو د رامنځته کيدو او ورسره د يو ځای کيدو حق، نور بنسټيز حقونه، او په مشخصه توګه پر ښځو وضع شوي محدوديتونه رانغاړي. د راپور دويمه برخه، د نړيوالو بشرپالو حقونو څخه سرغړونه بيانوي، چې په کې ملکي تلفات، شکنجه او ناوړه چلند، جنسي تيرۍ، په قصدي توګه په ملکي خلکو پورې د اړوندو اموالو تخريب، او د عمومي او خصوصي شتمنيو چورول شامل دي. ټولې پېښې، اطلاعات او ارقام چې په دې راپور کې د رواداري بنسټ د مونډنو په توګه راغلي، لړ تر لړه د درې باورې سرچينو له خوا تائيد شوي دي.

که څه هم په دې راپور کې هڅه شوې چې په ټول افغانستان کې د بشر حقونو او د نړيوالو بشرپالو حقونو د سرغړونو لويې پيښې راوړل شي؛ خو ورځ تر بلې اطلاعاتو ته د لاسرسي محدودېدل او په سيمه کې د معتبرو سرچينو له خوا د بشر حقونو د قضاياو د تائيد سختوالی هغه ستونزې وې چې له امله يې موږ باور لرو نورې لويې پېښې هم شته، چې موږ نه يو توانيدلي مستندې يې کړو. واک ته د طالبانو بيا راتلو سره د اساسي قانون پر بنسټ رامنځته شوې جوړښتونه او بنسټونه له منځه لاړل، نافذ قوانين چې په سر کې يې پخوانی اساسي قانون دی د هيوادوالو د اساسي حقونو او آزاديو تضمينوونکی و لغوه اعلان شو، او له همدې ځايه د افغانستان د خلکو د بشري حقونو قانوني ملاتړ او ساتنه په بشپړه توګه له منځه لاړه. له همدې امله، د بشر حقونو د ملاتړ او ساتنې لپاره د قانوني ميکانيزمونو نشتوالي، د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کميسيون او د بشر حقونو د نورو بنسټونو د فعاليت لپاره د زمينې نشتوالي، او له بل اړخه په تېر يو کال (۲۴ زمري ۱۴۰۰ څخه تر ۲۴ زمری ۱۴۰۱) موده کې د نړيوالې ټولنې د فعال او اغيزناک حضور نشتوالي، د بشر حقونو وضعيت د خرابوالي لور ته يووړ. که څه هم د تېر يو کال په جريان کې امنيتي پېښې

نسبت تېرو کلونو ته د شمېر او کميت له پلوه کمې وې او مخامخ جګړو کې د پام وړ کمښت راغلی و؛ خو په تېر يو کال کې وسلوالو شخړو او خونړيو تروريستي بريدونو د افغانستان خلک بې شميره قرباني کړل. څرنګه چې د رواداری بنسټ د معلوماتو او مونډنو له مخې د طالبانو د اسلامي امارت په يو کال واکمنۍ کې په ټوليزه توګه ۲۹۳۲ تنه د خونړيو تروريستي بريدونو او هدفي اقداماتو په پايله کې وژل شوي او ټپيان شوي دي. ښځې د واکمنې ډلې د سيستماتيک او هدفي توپيري چلند په پايله کې له خپلو بنسټيزو او منل شويو انساني حقونو، لکه زده کړو او کار څخه محرومې شوې دي، همدارنګه، قومي او مذهبي لږکي د واکمنې ډلې له توپيري چلند او د تروريستي ډلو د مرګونو بريدونو سره مخ ؤ، چې له هغوی څخه يې ډېر قربانيان اخيستي دي.

په دې موده کې، د هيواد په ګوټ ګوټ کې د لسګونو مدني ټولنو، د خپلواکو، بې پرې او معتبرو رسنيو فعاليتونه ودريدل، چې له امله يې د بيان آزادي، رسنۍ او اطلاعاتو ته لاسرسی چې د تيرو دوو لسيزو ډېرې مهمې لاسته راوړنې ګڼل کيدې محدودې شوې. د طالبانو د اسلامی امارت د واکمنۍ په دې يو کلنه دوره کې په ټوليزه توګه ۱۵۱ تنه خبريالان ونيول شول او ۴۶ تنه نور تر تاوتريخوالي او ګواښ لاندې راغلل. د دې وضعيت په پايله کې که څه هم د بشر حقونو د سرغړونو پېښې په رسنيو کې خپريږي خو واقعيت دا دی چې د بشر حقونو د نقض قضيو ته دقيق او بشپړ لاسرسی ستونزمن شوی دی. د طالبانو اسلامي امارت، د تېر يو کال په ترڅ کې له خپلو منتقدينو او مخالفينو سره په بېلابېلو لارو په سختۍ او تاوتريخوالي سره چلند کړی او د رواداری بنسټ د مونډنو له مخې د تېر حکومت سلګونه کارکوونکي، خبريالان او د بشر حقونو مدافعان نيول شوي، شکنجه شوي او آن وژل شوي دي. زموږ د مونډنو له مخې، په تېر يو کال کې ۹۱۶ تنه په غير قانوني او خپلسري ډول د طالبانو له لورې نيول شوي او توقيف شوي دي. په دې کسانو کې د پخواني حکومت کارکوونکي؛ په ځانګړې توګه د امنيتي او دفاعي بنسټونو منسوبين او د هغوی خپلوان، خبريالان، مدني او ټولنيز فعالان او نور غير نظامي کسان شامل ؤ.

**په ټوليزه توګه ۲۹۳۲ تنه د خونړيو تروريستي بريدونو او هدفمندو اقداماتو په پايله کې ټپيان او وژل شوي دي**



## د معلوماتو د راټولولو تګلاره

رواداري بنسټ په تېر یو کال کې پر هیواد د طالبانو اسلامي امارت له واکمنۍ سره همهاله او د ټولو شته ستونزو او خنډونو سره سره، د بشر حقونو وضعیت په دوامداره او منظمه توګه څارلی او معتبرو او خپلواکو سیمه ییزو سرچینو، عیني شاهدانو، قربانیانو او د هغوی خپلوانو ته په مراجعې کولو یې له هغوی څخه د بشر حقونو د سرغړونو موارد راټول کړي دي. ویلای شوو چې په دې راپور کې راټول شوي معلومات او موندنې د باور وړ سیمه ییزو سرچینو له لوري تائید شوي دي. دا هغه معلومات دي چې په کابل، کندهار، هرات، ننګرهار، بامیان، کنړ، ارزګان، هلمند، بدخشان، قندوز، دایکندی، سرپل، تخار، غور، میدان وردګ، غزني، پنجشیر، پروان، بغلان، خوست، پکتیا، پکتیکا، فراه، نیمروز، بادغیس، کاپیسا، نورستان، بلخ او لغمان ولایتونو کې د باخبره سیمه ییزو سرچینو څخه ترلاسه شوي او په رښتیني ډول پرتله، تحلیل او ارزیابي شوي دي. سربېره پر دې، په دې راپور کې د نورو اړوندو معتبرو بنسټونو  له خوا خپرو شویو معلوماتو څخه هم ګټه اخیستل شوې ده.

په دې موده کې د طالبانو د پراخو محدودیتونو سره د بشر حقونو د سرغړونو د قضیو په اړه  اطلاعاتو ته لاسرسی سخت او ستونزمن کار و، ځکه چې د طالبانو د استخباراتو بنسټ هر ډول اطلاعاتو ته د لاسرسي او خپرولو مخنیوی او عاملینو سره یې له تاوتریخوالي ډک چلند کاوه.

رواداري بنسټ په دې راپور کې د بشر حقونو د سرغړونو ځینې پېښې چې د طالبانو د اسلامي امارت په واکمنۍ کې پېښې شوې دي، د تېر یو کال په جریان کې مستندې کړې دي، او ټولې پیښې او ارقام چې په دې راپور کې راوړل شوي دي لړ تر لږه د درې باوري سرچینو له لوري تائید شوي.

# لومړۍ برخه

## د بشر حقونو وضعیت

د رواداري د موندنو پر بنسټ، په افغانستان کې (د ۱۴۰۰ لمريز د زمري له ۲۴مې د ۱۴۰۱ لمريز کال د زمري تر ۲۴مې) په يو کلنه موده کې بشري حقونه په پراخ او سيستماتيک ډول نقض شوي. د راپور په دې برخه کې به د بشر حقونو د سرغړونو د مهمو موارډو او شته ستونزو په اړه مفصل بحث وشي.

### ۱ د ژوند د حق نقض

که څه هم د تېر يو کال په بهير کې د تېرو کلنو په پرتله امنيتي پېښې د شمېر له مخې کمې وې او په مخامخ وسله والو جګړو کې د پام وړ کموالی راغلی و، خو د وسلوالو شخړو او خونړيو تروريستي بريدونو د افغانستان له خلکو څخه بې شميره قربانيان اخيستي دي. **د رواداري د موندنو پر بنسټ، پر افغانستان د طالبانو د اسلامي امارت د واکمنۍ په يو کلنه موده کې په ټوليزه توګه ۲۹۳۲ کسان د خونړيو تروريستي بريدونو او هدفي اقداماتو له امله وژل شوي او ټپيان شوي دي.**

#### ملکي تلفات

ترلاسه شوي شواهد او مدارک ښيي چې په ټوليزه توګه ۲۷۲۲ ملکي وګړي، ۱۷۹۴ نارينه، ۱۱۰ ښځينه ۵۲۵ ماشومان او ۲۹۳ تنه نور چې د جنسيتي هويت په پېژندنه يې نه يو توانيدلي د تېر کال په بهير کې په افغانستان کې وژل شوي او ټپيان شوي دي. له دې ډلې، ۱۱۷۴ تنه، ۸۶۲ نارينه، ۴۸ ښځينه، ۲۴۹ ماشومان او ۱۵ تنه نور چې هويت يې نه دی څرګند وژل شوي دي، او ۹۳۲ تنه نارينه، ۶۲ تنه ښځينه، ۲۷۶ تنه ماشومان او ۲۷۸ تنه نور چې هويت يې نه دی څرګند په ټوليزه توګه ۱۵۴۸ تنه کيږي، ټپيان شوي دي. پورته کسان د خونړيو تروريستي بريدونو په ګډون د ناامنۍ په بېلابېلو پېښو کې قرباني شوي دي.

#### هدفي او پلان شوې وژنې

پر افغانستان د طالبانو د اسلامي امارت د يو کلنې واکمنۍ په بهير کې په ټوليزه توګه ۲۱۰ تنه د پخواني حکومت د امنيتي بنسټونو کارکوونکي، قاضيان، مدافع وکيلان، د بشر حقونو مدافعين، څارنوالان، په ولسي خوځښتونو پورې اړوند کسان، د دولتي او غيردولتي مؤسساتو پخواني کارکوونکي او غير نظامي کسان د داعش ډلې او مقاومت جبهې سره د همکارۍ په تور په سيستماتيک او هدفي توګه وژل شوي او ټپيان شوي دي. ياد کسان په کندهار، غور، جلال آباد، کنړ، هلمند، ارزګان، دايکندي، هرات، بلخ، پنجشير، بدخشان، کابل، قندوز، تخار او سرپل ولايتونو کې وژل شوي دي.

طالبانو پر افغانستان له واکمنېدو وروسته د غچ اخيستونکو اقداماتو په ترسره کولو د پخواني دولتي او غير دولتي بنسټونو کسان تعقيب کړي او د هغوی د پېژندنې په موخه يې د هيواد په بېلابېلو برخو کې د کورونو او استوګنځايونو تلاشی ترسره کړې دي. تر لاسه شوي شواهد ښيي چې طالبانو د يادو کسانو تر پېژندنې وروسته د هغوی په شکنجه کولو، له تاوتريخوالي ډک چلند او حتی د هغوی په وژنو لاس پورې کړی. د دغې ډلې د واکمنۍ په درې لومړيو مياشتو کې د تېر حکومت د امنيتي بنسټونو او ولسي خوځښتونو اړوند کسان، قاضيان، مدافع وکيلان، د بشر حقونو مدافعين، د غيردولتي مؤسساتو کارکوونکي او سيمه‌ييز متنفذين په هدفي توګه په قتل رسيدلي دي. د ۲۰۲۱ م کال د سپټامبر پر ۸ نېټه ۴ تنه پوليس په کندهار کې له کورونو ويستل شوي او وروسته په ناوړه توګه وژل شوي.

د ۲۰۲۱م کال د اګست د ۲۵ نېټې څخه د نومبر تر ۲ نېټې پورې ۶۱ تنه د ننګرهار ولايت اوسيدونکي په قتل رسيدلي، چې له ډلې څخه يې ۳۸ کسان له داعش سره د اړيکي او همکارۍ په تور، د ۲ ښځو په ګډون ۱۰ تنه ملکي کسان وژل شوي چې تور يې نه دی معلوم، او ۳ تنه ديني عالمان، ۴ تنه د پخواني حکومت کارکوونکي، ۳ تنه مدني فعالان او ۱ خبريال په دغه ولايت کې وژل شوي دي. سيمه ييزو سرچينو رواداري بنسټ ته ويلي چې د ۳۱ تنو وژل شويو د جسدونو سره ليکونه هم پيدا شوي چې ګويا دغه کسان د داعش سره د اړيکو په تور وژل شوي دي، هغه کار چې مخکې به طالبانو د تېر حکومت له کارکوونکو سره کاوه. همدارنګه له دغو وژل شويو کسانو څخه يې د ځينو سرونه پرې شوي او د يو شمېر نورو جسدونه په ونو کې ځړول شوي ؤ.

ترلاسه شوي راپورونه ښيي چې د طالبانو ډلې په بدخشان ولایت کې په پلان شوي ډول خپل مخالفین او د پخواني حکومت کارکوونکي وژلي. کله چې دغه ډله په لومړیو ورځو کې بدخشان ته ننوته، زیات شمېر کسان تري تم شول چې د ځینو جسدونه وروسته په رودونو، غرونو او درو کې پیدا شول او د پاتې کسانو په اړه تر اوسه هم کوم معلومات نشته. د سیمې د خلکو په وینا، طالبان د شپې له خوا د خلکو کورونه تلاشي کوي او هغوی نامعلوم ځای ته لیږدوي چې وروسته یې جسدونه په رودونو، غرونو او درو کې پیدا کیږي. د بېلګې په توګه، طالبانو د ولسي خوځښتونو یو پخوانی قوماندان د ۲۰۲۲ م کال د جون پر ۲۳مه نېټه له خپل کور څخه نیولي ؤ چې وروسته یې جسد په سیند کې وموندل شو، همدارنګه د طالبانو حکومت په لومړیو درېو میاشتو کې د پخواني حکومت د ۷ تنو کارمندانو جسدونه په سیند کې پیدا شول. سربېره پر دې، د ۲۰۲۱ کال د نوامبر میاشتې پر ۲۰ نېټه قندوز ولایت کې د ملي امنیت یو تن کارکوونکی چې د نامعلومه وسله والو کسانو له خوا له خپل کوره نیول شوی و، کورنۍ یې ۲۰ ورځې وروسته جسد په داسې حال وموند چې په مرمیو ویشتل شوی و. د ۲۰۲۲ م کال د می میاشتې د ۱۵-۱۱ نیټې طالبانو په تخار ولایت کې د پخواني حکومت د ملي امنیت کارکوونکي په ډزو وژلي دي.

پورته پېښې په داسې حال کې رامنځته شوې دي چې طالبانو مخکې اعلام کړی و چې د دولتي او غیردولتي بنسټونو پخواني کارکوونکي د هغوی د بخښنې په فرمان کې شامل دي او څوک به د پخواني حکومت، مؤسساتو، غیردولتي ملي او نړیوالو بنسټونو سره د همکارۍ په تور نه مجازات کیږي، خو حقیقت دا دی چې په ډېرى مواردو کې دغه فرمان د طالبانو له خوا نه دی عملي شوی.

## ۲ د انساني کرامت د حق نقض

د ترلاسه شویو موندنو او اطلاعاتو پر بنسټ دا څرګندیږي چې تېر حکومت ته منسوب افراد په ځانګړي ډول نظامیان او د امنیتي بنسټونو کارکوونکي د طالبانو له سخت چلند سره مخ شوي او همدا رنګه په تېر یوه کال کې  د صحرایي محاکمو او غیر قانوني مجازاتو د پېښو راپورونه ورکړل شوي دي.

### شکنجه او ناوړه چلند

له سیمه ییزو سرچینو څخه ترلاسه شوي اطلاعات څرګندوي چې طالبان په خپل تېر یو کلن حکومت کې په زیاته کچه د شکنجو او ناوړه چلندونو مرتکب شوي دي. د دې راپور د موندنو له مخې د تېر کال په بهیر کې ۴۴۰ تنه تر شکنجې لاندې نیول شوي او ناوړه چلند ورسره شوی. د شکنجو زیاتره قربانیان د تېر حکومت کارمندان، مخالفین، د طالبانو منتقدان، خبریالان، ښځینه معترضینې او د بشر حقونو مدافعین دي.

د یادونې وړ ده چې د طالبانو د اسلامي امارت لخوا د سختو مقرراتو پلي کولو له امله د شکنجې او ناوړه چلندونو د مستندولو لپاره زندانونو ته لاسرسی د رواداري بنسټ لپاره ممکن او میسر نه و. له سیمه ییزو سرچینو څخه د لاسته راغلو اطلاعاتو پر بنسټ د طالبانو ډلې د تېر حکومت کارمندان او د هغوی خپلوان توقیف کړي، او ځورولي دي. د ۲۰۲۱ کال په اکتوبر میاشت کې طالبانو په ننګرهار کې یو کس د دې له امله شکنجه کړی چې زوی یې په امنیتي برخه کې سرتېری و.  په پروان ولایت کې د ۲۰۲۱ کال د سپټامبر پر ۱۱ طالبانو یو خبریال د لاریونونو د رهبري کولو په تور په ساعتونو په تشناب کې بندي کړی و، او په کیبل سره یې وهلی او شکنجه کړی و، چې د شکنجې قرباني کس له جدي رواني او فزیکي زیانونو سره مخ شوی. همدارنګه، په هرات ولایت کې چې کوم کسان د طالبانو له زندانونو څخه په تېښته بریالي شوي، څرګنده کړې یې ده چې له سختې شکنجې او ظالمانه چلند سره مخ ؤ. د دې تر څنګ، په کندهار ولایت کې د بشر حقونو یو مدافع رواداري سازمان ته ویلي چې طالبانو له نیولو وروسته وهلی دی، غوږ یې ورکړي دي، برقي شاټونه او بېلابېلې فزیکي شکنجې یې ورکړې دي.  له بل پلوه، د شکنجو قربانیانو ویلي چې طالبانو دوی ته ګوتځنډنه کړې، که چېرې دوی یا د کورنۍ غړي یې له رسنیو سره د طالبانو د مسؤلینو د ناوړه چلند په اړه خبرې وکړي، و به نیول شي او شکنجه به شي، حتا ځینې یې په مرګ ګواښل شوي دي.

### صحرایي محاکمه

ناقانونه او د انساني کرامت ضد مجازات نور هغه موارد دي چې طالبان یې د هیواد په بېلابېلو برخو کې په دوامداره توګه مرتکب شوي دي. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، په ټولیز ډول په تېرو ۱۲ میاشتو کې ۱۰۹ تنه د طالبانو لخوا محاکمه او په صحرایي ډول مجازات شوي دي. دغه کسان بې له دې چې د یوې صلاحیت لرونکې محکمې پر وړاندې یې تور ثابت

شي، محاکمه او مجازات شوي دي. همدا راز، د ۲۰۲۱ کال د سپټامبر پر ۲۵ نېټه په هرات ولایت کې څلور تنه د انسان تښتونې په تور په عمومي ځایونو کې را ځوړند شول، د دې تر څنګ د غلا په تور د نیول شویو کسانو غیرانساني مجازات، د طالبانو د صحرایي محاکمو څو هغه بېلګې دي چې په تېر کال کې ترسره شوي دي.

په ننګرهار ولایت کې هم یو تن چې د غلا په تور نیول شوی او مخ یې تور کړل شوی و، هغه کس وروسته ځان وژنه وکړه. سربېره پر دې، د ۲۰۲۲ کال د می میاشتې پر ۲ نیټه د هرات لپاره د طالبانو د والي مرستیال وویل، دوه تنه چې د غلا په نیت کور ته دننه شوي ؤ وژل شوي او جسدونه یې د نورو د عبرت او درس لپاره په عامه ځایونو کې د خلکو د لیدلو لپاره ایښي.  په یوه بله پېښه کې طالبانو د ارزګان په ترینکوټ کې د ۲۰۲۲ کال د فیبروري پر ۲۱ یو کس د زنا په تور د خلکو په مخکې په دُرو وهلی، د سیمې خلکو او مدني فعالانو په دې اړه ویلي چې د دې کس محاکمه عادلانه نه وه او داسې ښکاري چې د دې اصلي لامل شخصي دښمني وه.  د ۲۰۲۱ کال د سپټامبر پر ۲۰ یو هلک او نجلۍ په غور ولایت کې او په همدې میاشت کې یو هلک او نجلۍ په فاریاب ولایت کې د واده کولو په نیت سره تښتیدلي ؤ، طالبانو هغه نیولي او د سلګونو خلکو په مخ کې یې په دُرو وهلي او مجازات کړي دي.  د پورته اقداماتو پر دوام، د طالبانو د ډلې یو مسؤل اعلان کړه چې موږ د اسلامي حدودو د مجازاتو لکه قصاص، اعدام او د غله د لاس او پښې پریکولو د سزاګانو تطبیق له سره پیلوو. پر تورنو او مظنونو کسانو د اسلامي حدودو تطبیق، په داسې شرایطو کې چې جزایي قوانین ځنډیدلي او د عدالت د تامین او ځواب وینې لپاره هیڅ میکانیزم نشته، د انساني کرامت او بشري حقونو په نقض تمامېدلی شي.

## ۳ خپلسرې نیونې او توقیفونه

د رواداري بنسټ موندنې څرګندوي چې ۹۱۶ کسان د تېر یو کال په جریان کې د طالبانو لخوا په خپلسري او غیر قانوني ډول نیول شوي او توقیف شوي دي، په دوی کې د تېر حکومت کارکوونکي، په ځانګړې ډول د تېرو امنیتي او دفاعي بنسټونو منسوبین او خپلوان یې، خبریالان، مدني او ټولنیز فعالان او نور غیر نظامي کسان شامل دي.  د دې راپور موندنې ښیي چې طالبانو زیات کسان یوازې له دولتي بنسټونو او نړیوالو سازمانونو سره د همکاریو او یا د بشر حقونو لپاره د کار له امله نیولي او بندیان کړي دي. یواځې په فراه او نیمروز ولایتونو کې طالبانو د خپلې واکمنۍ په لومړنیو درېو میاشتو کې۳۶۰ تنه مدني او ټولنیز فعالان او د ټولنیزو شبکو کارونکي د بېلابېلو تورونو، لکه پر اسلامي امارت د نیوکو له امله نیولي او ناوړه چلند او تاوتریخوالی یې ورسره کړی دی.

پر همدې مهال طالبانو په پنجشېر ولایت کې ۲۰۵ ملکي وګړي د مقاومت جبهې د غړیتوب او ورسره د همکارۍ په تور نیولي دي. سربېره پر دې، په ننګرهار ولایت کې طالبانو د واکمنۍ په لومړنیو شپو ورځو کې د ملي امنیت یو شمېر کارمندان نیولي او نا معلومو ځایونو ته یې لېږدولي دي. په یوه بله پېښه کې د ۲۰۲۱ کال د سپټامبر پر ۱۰ د طالبانو ډلې په کندهار کې د یو مدني فعال او د یو خیره بنسټ د رئیس پر کور یرغل وکړ، دی او د کورنۍ غړي یې وهلي او ډبولي دي.

د علومو اکاډمۍ رئیس مولوي فرید الدین محمود ۲۰۲۱/۱۱/۱۴ نېټه وویل ((د کابل تر ٪۸۰ زیات خلک په ځانګړې ډول ځوانان کفري فکر لري، ځکه چې امریکا په تېرو دوو لسیزو کې د کلتوري یرغل په ترڅ کې زیات کار کړی دی...))، د طالبانو د یوې بانفوذه څېرې لخوا دا ډول څرګندونې کېدای شي چې د دې ډلې د نورو غړو لپاره د خپلسرو نیونو او د شخصي امنیت او آزادۍ د حق د نقض یوه فتوا وي او دوی ته لا زیات جرئت ورکړي. له همدې کبله د خلکو خپلسري او نا قانونه نیونې، هغه موارد دي چې تر اوسه د هېواد په بېلابېلو برخو کې جریان لري. دا ډول کړنې د بشر حقونو له نړیوالو اسنادو سره ښکاره مخالفت دی او د شخصي امنیت او آزادۍ د حق د نقض ښکاره بېلګې ګڼل کېږي.

## ۴ عدالت ته د لاسرسي وضعیت

د طالبانو لخوا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له ړنګېدو وروسته د ټولو کورنیو قوانینو اجرا ځنډول شوې ده، او د اساسي قانون پر بنسټ جوړ شوي ارګانونو چې عدلي او قضایي ارګانونه هم پکې شامل دي، له منځه تللي او یا هم مخکني مسلکي کادرونه یې ترې شړلي دي.

لاسته راغلي معلومات څرګندوي چې په تېر یو کال کې ۱۰۱۶ مسلکي او اداري کسان د څارنوالۍ له مرکزي او ولایتي دفترونو

له دندو شړل شوي دي. په همدې ډول ۲۰۰۰ هغه قاضيان چې په تېر جمهوريت کې يې د قضايي ارګان په بېلابېلو برخو کې کار کاوه، له دندو شړل شوي دي. طالبانو په مرکز او ولايتونو کې په بېلابېلو عدلي او قضايي بنسټونو، په ځانګړې ډول په محاکمو کې نوي قاضيان او کارکوونکي ګمارلي دي، ياد افراد په مذهبي مدرسو کې روزل شوي دي، نو ځکه په عصري قضايي سيستم بلد نه دي، له همدې کبله دوی له دين څخه د سنتي برداشت او د عرفي تګلارو له مخې حکمونه صادروي، له بل اړخه د څارنوالۍ او محاکمو ترمنځ د ځانګړو صلاحيتونو توپير نه دی ښودل شوی، تورن کسان د قانون د اصولو او تشريفاتو په پام کې نه نيولو او بې له تحقيق څخه په مستقيم ډول محاکمه او مجازات کېږي، څارنوالان د محاکمې پر حکم د اعتراض حق نه لري او هم نشي کولای چې د تورنو کسانو لپاره تجديد نظر او د استيناف غوښتنه وکړي. د دې راپور موندنې دا څرګندوي چې په ځينو ولايتونو کې د طالبانو عادي کس په مياشتو مياشتو د څارنوال او قاضي دنده تر سره کړې ده، د بېلګې په توګه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت تر ړنګېدو وروسته، څو مياشتې په دايکندي ولايت کې حقوقي او جزايي موضوعات د پوهني رئيس ته د مولوي او مفتي په نامه استول کېدل او پرېکړه يې کېدله او هم په امنيتي برخه کې ځينې قضيې د نقدي جريمو په ورکولو سره فيصله کېدلې.

په ځينو نورو سيمو لکه هلمند کې قضيې روحانيونو او د مسجد ملا امامانو ته د حل او فصل په موخه استول کېدلې، چې په داسې وضعيت کې عدالت ته لاسرسی ډېر سخت او حتا نا ممکن ښکاري. ځکه لکه څرنګه چې وويل شول، هغه قانوني ميکانيزمونه نشته چې قربانيانو ته په داسې سختو او نا برابرو شرايطو کې عدالت ته لاسرسی برابر کړي. د بېلګې په ډول د ۲۰۲۱ کال د سپټامبر پر ۲۸ نېټه په يوې ترافيکي پيښه کې او د عيني شاهدانو د اظهاراتو پر بنسټ، طالبانو د دايکندي ولايت په مرکز کې يوه مور په موټر ووهله او سخته ټپي او يو ۱۵ کلن زوی يې ومړ، طالبانو د پيښې عامل ونه نيو او يوازې يې د کرني رياست له ګدام څخه شپږ بوجۍ غنم د مقتول کورنۍ ته ورکړل او قضيه يې حل او فصل اعلان کړه.

همدارنګه په کندهار کې يو ۱۴ کلن ماشوم د ۲۰۲۲ کال په مارچ په مياشت کې د سلو افغانيو د غلا په تور ونيول شو او تر درې مياشتو زياته موده يې په توقيف کې ساتلی و. د يادونې وړ ټکي دا دي چې طالبانو په ولايتونو کې محاکم فعاله کړي دي، خو د تېر حکومت د کارکوونکو په اړه په بشپړ ډول يو طرفه چلند کوي، د بېلګې په توګه په هرات ولايت کې يوه تن محکمې ته مراجعه کړې ده او ادعا يې کړې چې د تېر حکومت يو کارکوونکي ترې په زور پيسې اخيستې وې، محکمې بې له تحقيق او لازمې څېړنې د ادعا شويو پيسو پر ورکړه پرېکړه کړې ده.

همدا راز، د مستندو راپورونو پر بنسټ په زرګونه کسان د بېلابېلو تورونو له امله د آزادۍ د سلب په مرکزونو او نورو ځايونو کې پراته دي. طالبان بې له دې چې د تورنو توپير وکړي، ټول په يو ځای کې ګډ ساتي، لکه په کندهار کې ۲۲۰۰ تنه بې له دې چې د تور د نوعيت له مخې سره جلا شي، په يو ځای کې ساتل کيږي او د دې راپور له بشپړېدو څو مياشتې مخکې يې په همداسې وضعيت کې يې د محاکمې او د خپل سرنوشت ټاکل کېدو انتظار کاوه.

لکه څرنګه چې طالبانو د زندانونو د چارو څارونکي قوانين، لکه د جزايي اجراآتو قانون لغوه اعلام کړي دي، د آزادۍ د سلب له مرکزونو څخه يې مسلکي او روزل شوي کارکوونکي شړلي دي، او هيڅ يو بنسټ ته د يادو مرکزونو د څارنې اجازه نه ورکوي، له همدې کبله عادلانه محاکمې ته د لاسرسي امکان له منځه تللی او د محاکمې په جريان کې د تورن او مظنون اساسي حقوق او د محکمې پر وړاندې د برابرۍ، عادلانه او علني محاکمې اصول، د برائت د اصل رعايت، د مدافع وکيل د لرلو او د محاکمې پر حکم د تجديد نظر حقونه نقض شوي دي.

## ۵ د بيان د آزادۍ او د مطبوعاتو د آزادۍ حق

طالبانو په تېر يو کال کې د رسنيو او مطبوعاتو پر کارونو سخت مقررات وضعه کړي دي؛ لکه څرنګه چې کورنۍ رسنۍ خپلواکه او بې طرفه راپورونه نشي نشرولای او په دې مکلف دي چې د اسلامي امارت د پاليسۍ او سياست پيروي وکړي، ځينو خبريالانو ويلي چې دوی ته امر شوی چې بايد د اسلامي امارت له خوښې پرته کوم راپور نشر نکړي او د ولايت د رسنيو مسؤلين بايد د هر راپور له خپرولو مخکې طالبانو سره همغږي او مشوره وکړي، هغو خبريالانو سره تاوتريخوالی شوی چې د طالبانو له دې امر څخه يې سرغړونه کړې. سربېره پر دې، په ډېری ولايتونو کې يې ښځو خبريالانو ته په رسنيو کې د فعاليت اجازه نه ده ورکړې، او همدارنګه د طالبانو ډلې زيات شمېر خبريالان او د رسنيو مسئولين له دې کبله نيولي، مجازات او شکنجه کړي دي چې بې طرفه خبرونه يې خپاره کړي دي او مدني لاريونونه يې تر پوښښ لاندې نيولي دي.

د رواداري بنسټ د موندنو له مخې په ياده يو کلنه موده کې په ټوليز ډول طالبانو ۱۵۱ خبريالان نيولي او ۴۶ نور يې ګواښلي او تاوتريخوالی يې ورسره کړی. همدارنګه، د خبريالانو د نړيوال فدراسيون او د افغانستان د خبريالانو د ملي

اتحادیې د ارزونې له مخې پر هیواد د طالبانو له واکمنېدو وروسته د ۳۱۸ رسنیو فعالیت درېدلی او نږدې ۳۰۰۰ خبریالانو خپلې دندې له لاسه ورکړې دي، چې ډېری یې ښځې دي. د طالبانو ډلې ځینې مدني فعالان، خبریالان او د پوهنتونونو استادان چې په ټولنیزو شبکو کې یې نیوکې کولې، تهدید کړي او زورولي دي. په یوه پېښه کې، په بدخشان ولایت کې یو منتقد طالبانو د شپې لخوا له کوره ویستلی او ځان سره یې وړی دی، چې تر اوسه یې په اړه معلومات په لاس کې نشته.

همدا راز، د ټولنیزو شبکو ځینو کاروونکو هم شکایت کړی چې د خپل نظر په شریکولو او انتقادي پوسټونو د طالبانو لخوا ګواښل شوي او له امنیتي ستونزو سره مخ شوي دي. دوی ښکاره کړې ده چې طالبانو امنیتي حوزو ته ورغوښتي او نیولي یې دي. د بېلګې په توګه په فراه ولایت کې د طالبانو ډلې د خپلې واکمنۍ په لومړیو میاشتو کې ۳۱ تنه له دې امله نیولي او شکنجه کړي دي چې پر اسلامي امارت یې نیوکې کړې دي. طالبانو ویلي چې د اسلامي امارت د ستونزو په اړه خبرې کول د امارت اعتبار ته زیان رسوي، نو ځکه باید عاملین یې مجازات کړل شي.

په ورته وخت کې طالبانو امر کړی، هغه سریالونه چې ښځو پکې رول لوبولی وي، طنزي او کمېډي خپروني، هغه سریالونه چې د صحابه وو رول پکې لوبېدلی وي او هغه سریالونه چې د افغان کلتور او دیني عقایدو خلاف وي، په بشپړه توګه منعه دي او باید نشر نشي. د وېرې او خوله پټولو د فضا په موجودیت سره له خلکو د خپلواک نظر ښکندولو حق اخستل شوی او له بل اړخه ځینې هغو رسنیو چې مخکې یې د بیان د آزادۍ په خپرولو او په آزاد ډول د اطلاعاتو د رسولو په برخه کې مهم رول درلود، خپل کارونه یې د پام وړ کم کړي دي. په دې ډول سره ډېرې کمې رسنۍ کولای شي چې په خپلواک، آزادانه او بې پرې ډول اطلاعات خلکو او عمومي افکارو ته ولېږدوي.

پورته ستونزو ته په کتو سره، ښکنده ده چې د بیان آزادي او د مطبوعاتو او اطلاعاتو ته د لاسرسي آزادي په افغانستان کې د اسلامي آمارت له واکمنېدو وروسته محدوده او په سختو شرایطو کې لوېدلې ده.

## ۶ د سوله ییزو را ټولېدونو د حق نقض

پر افغانستان د اسلامي امارت له واکمنېدو او د خلکو پر بنسټیزو آزادیو د محدودیتونو، په ځانګړي ډول د ښځو د حقوقو او انساني آزادیو سره د ښکاره مخالفت سره سم، د هیواد په بېلابېلو برخو کې ځینو خلکو اعتراض وکړ. معترضانو له طالبانو د خپلو مدني او قانوني لارو وغوښتل چې د ټولو افغانانو حقونو ته درناوی وکړي، ټولو خلکو په ځانګړي ډول ښځو او قومي او مذهبي لږکیو ته په عمومي چارو کې د مشارکت امکان برابر کړي، خو دا اعتراضات طالبانو په تاوتریخجن چلند سره غلي کړل.

د طالبانو ډله د خپلې واکمنۍ په لومړنیو میاشتو کې د خلکو د ۱۳ مدني او سوله ییزو اعتراضونو د ټکولو مرتکب شوې، چې په پایله کې یې زیات شمېر معترضان چې ځینې یې خبریالان ؤ او د اعتراضونو د پوښښ لپاره ورغلي ؤ، نیولي او شکنجه کړي دي. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ ۲ تنه د دې اعتراضونو ګډون کوونکي څخه وژل شوي او ۶ تنه نور ټپیان شوي دي. د ۲۰۲۱ کال د سپټامبر پر ۱۱ نېټه په پروان ولایت کې یو شمېر سیمه ییزو متنفذینو او مشرانو یوه اعتراضي غونډه وکړه چې د طالبانو په نظامي اقدام سره ودرول شوه او ګډون کوونکي یې وټکول شول. طالبانو سره له دې چې ګډون کوونکي یې په کوتکونو، قمچینو او د ټوپک په قنداغونو ووهل، ځینې ګډون کوونکي او خبریالان یې ونیول، د خبریالانو کامرې او تلیفونونه یې ترې واخستل، وروسته یې د داسې کړنو د نه تکرار ژمنې ترې واخستلې او خوشې یې کړل.

همدارنګه په کابل او مزار شریف کې طالبانو د تېر یو کال په جریان کې ۶۹ معترضې ښځې د دوی پر وړاندې د اعتراضي پروګرامونو د مدیریت په تور نیولي او بندیانې کړې دي. طالبانو په تېر یو کال کې خپل مخالفان او حتا نیوکه کوونکي په تاوتریخجن ډول رټلي دي او دا یې ښودلې ده چې دوی د نورو افرادو د تابع کولو لپاره د تاوتریخوالي څخه د یوې وسیلې په توګه ګټه اخلي. لکه څرنګه چې د کابل لپاره د طالبانو والي د ۲۰۲۲ کال په مۍ میاشت کې په یوه ویډیو کې چې په ټولنیزو رسنیو کې لاس پر لاس کېدله، ویلي دي چې ((د طالبانو مخالفت حرام دی او د دې نظام مخالفین واجب القتل دي)).

## ۷ د صنفي اتحادیو د جوړولو او په هغو کې د ګډون د حق نقض

د طالبانو په یو کال په واکمنۍ کې نه یوازې چې هیڅ صنفي اتحادیه، مدني بنسټ، ګوند او اتحادیه جوړه نه شوه، بلکې

په ځينو ولايتونو کې طالبانو د دا ډول تشکيلاتو د جوړېدو مخه نيولې ده، د بېلګې په توګه د پوهنتونونو د استادانو اتحاديه چې د افغانستان په کچه يې فعاليت کاوه او په کندهار کې هم فعاله وه، د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت په رسمي مکتوب سره لغوه او فعاليت يې د هيواد په زيان وګڼل شو، په يو بل مورد کې، د پروان ولايت ځينو ځوانانو غوښتل چې يوه ټولنه جوړه کړي، خو د ثبت په پړاو کې يې د طالبانو د عدليې رياست لخوا منفي ځواب ترلاسه کړ. همدا راز، د ٢٠٢٢ کال د فبرورۍ مياشتې پر ٢٠ نېټه د کندهار د عدليې رئيس د مدني فعالانو او ټولنيزو خيريه رضاکارانو سره د يوې ناستې پر مهال هغوی ته امر وکړ چې خپل فعاليتونه ودروي، ځينو ګډون کوونکو ويلي چې د عدليې رئيس د دې کار علت د مدني او رضاکاره کړنو په اړه د مشخصې پاليسۍ نشتوالى په ګوته کړ. د دې راپور موندنې ښيي چې په ټول هيواد کې زياتره هغه فرهنګي او ټولنيز سازمانونه چې مخکې يې منظم فعاليت درلود اوس منحل شوي او فعاليتونه يې درېدلي دي.

## ٨ د ښځو پر بنسټي آزاديو لګېدلي محدوديتونه

پر افغانستان د طالبانو له واکمنۍ راهيسې په ښکاره او واضح ډول د ښځو د بنسټيزو حقونو او آزاديو، په ځانګړي ډول د زده کړو حق او په عمومي چارو کې د ښځو له ګډون سره مخالفت شوی دی. په لومړني اقدام کې يې دولتي ادارو ته د ښځينه کارکوونکو د تګ مخه ونيوله او هغه ښځې چې د تېر حکومت په بېلابېلو برخو کې يې کار کاوه، له دندو وشړل شوې، وروسته له دې طالبانو امر وکړ چې له دې وروسته نجونې د شپږم ټولګي څخه پورته ښوونځيو ته د تګ اجازه نه لري، له همدې کبله په سلګونه زره نجونې د هيواد په کچه له تعليم څخه محرومې شوې دي. همدا راز، طالبان د تېر يوه کال په جريان کې د ښځو پر وړاندې د زيات توپيري چلند او ظلم مرتکب شوي دي، په دې ډول سره دوی د خپلو انساني حقونو او آزاديو څخه بې برخې شوي دي.

### نيونې او اجباري ترې تم کېدل

د تېرو ١٢ مياشتو په جريان کې ډېرې ښځې په دې تور چې په اعتراضي پروګرامونو او يا د تېر حکومت په امنيتي او دفاعي بنسټونو کې يې کار کړی دی، نيول شوې، ترې تم شوې او يا وژل شوې دي. د رواداري بنسټ موندنې په ډاګه کوي چې د تېر يو کال په جريان کې د هيواد په کچه ١٧ ښځې وژل شوې دي، ٩ ښځې ترې تم شوې او ٧٣ ښځې نيول شوې دي. د طالبانو ډلې د ٧ ښځو پر کورونو وسله وال يرغل کړی، هغه يې نيولې او بنديانې کړې دي، او په بلخ ولايت کې يې ۴٠ معترضې ښځې له هغې وروسته نيولې دي چې په يو اعتراضي عدالت غوښتونکي لاريون کې يې ګډون کړی و. سربېره پر دې، يو شمېر ښځې د تېر حکومت په امنيتي او دفاعي بنسټونو کې د کار او نورې د مدني فعاليتونو په تور وژل شوې دي.

لکه د غور ولايت يوه ښځه چې مخکې د دې ولايت په زندان کې کارکوونکې وه، د ٢٠٢١ کال د سپټامبر پر ۴ د خپل مېړه او زامنو مخته په مرميو وويشتل شوه. په غزني او مزارشريف کې دوه نورې ښځې د مخکنيو امنيتي بنسټونو کارکوونکې وې، چې د طالبانو لخوا په قتل ورسېدلې، او هم د ٢٠٢١ کال د سپټامبر پر ١۶ نېټه ٨ نورې ښځې چې په مزار شريف کې يې د اعتراضي لاريونونو په مشرۍ کې رول درلود، د طالبانو لخوا په پټ ډول ووژل شوې. د ښځو د عدالت غوښتونکو خوځښتونو په تاوتريخجن ډول غلې کول او د وهم او ډار د فضا خپرېدل د دې لامل شوی دی چې په مدني فعاليتونو کې مخکښې ښځې حتا له کوره د وتلو اجازه ونلري، ځکه چې طالبانو د پراخو محدوديتونو په لګولو او د شرعي محرم او حجاب د اجباري کولو په بهانه په عملي ډول په عامه چارو کې د ښځو هر ډول ګډون منعه کړی دی.

### په عامه چارو کې د ښځو د ګډون ممنوعيت

د طالبانو اسلامي امارت د خپلې واکمنۍ په لومړيو ورځو کې اعلان کړ چې ښځې نشي کولای يواځې او بې له شرعي محرم څخه له کوره د باندې ووځي، ښځينه زده کوونکې او خبريالانې مکلفې دي چې تور حجاب پر تن کړي او د رنګه لباسونو له اغوستلو بايد ډډه وکړي. له دې امله، هغو ښځو چې له دې امر څخه يې سرغړونه کړې، د طالبانو له تاوتريخجن چلند سره مخ شوي دي، حتا په ځينو ولايتونو لکه بدخشان او باميان کې نجونې د طالبانو لخوا له دې امله ګواښل شوې دي چې چپلکې يې په پښو کړې وې، خو جرابې يې نه وې په پښو.

د طالبانو د امربالمعروف او نهې عن المنکر سازمان ته منسوب کسان چې ټوله ورځ په ښارونو کې ګرځي، هغه ښځې چې حجاب او شرعي محرم ونلري، ناوړه او تاوترخجن چلند ورسره کوي. همدارنګه، تفريحي ځايونه، زيارتونه او حمايوي مرکزونه يې هم د ښځو پر مخ تړلي دي. طالبانو، د ٢٠٢٢ کال د مې مياشتې پر ٢٧ نېټه په کندهار کې د يوه بل امر له مخې

اعلان کړه چې ښځې بې له شرعي محرمه له ټرانسپورټ څخه د استفادې حق نه لري، په ځانګړي ډول له ښاري ټيکسي او ريکشا څخه استفاده نشي کولای، او که چا د دې امر څخه سرغړونه وکړه، مجازات به شي، لکه څرنګه چې په دې وروستيو کې ځينو ښځو د ښاري ترانسپورټ څخه تر استفادې وروسته د دوی لخوا اخطار تر لاسه کړی دی. لاسته راغلي معلومات څرګندوي چې د تېر يو کال په جريان کې کورنی تاوتريخوالی په ځانګړي ډول ناموسي او پټ قتلونه زيات شوي دي، طالبانو ځينې داخلي قوانين لکه اساسي قانون چې د ښځو د اساسي حقوقو او آزاديو ساتونکی او ښځو سره د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون چې د ښځو سره تاوتريخجن چلند يې جرم ګڼلی او د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي قربانيانو ته يې عدالت ته د لاسرسي زمينه برابروله، له منځه وړي دي. اوسمهال هيڅ قانوني ميکانيزم نشته چې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي قربانيانو ته رسيدګي وکړي، نو ځکه د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي عاملين بې له دې چې د دا ډول عمل له حقوقي عواقبو څخه ووېرېږي او يا ونيول شي، په زياته کچه د تاوتريخوالي او ناوړه چلند مرتکب کېږي.

پر افغانستان د طالبانو د اسلامي امارت په دويم ځل واکمن کېدو سره زيات زيان د ښځو او نجونو ژوند ته اوښتی دی، تر دې ځايه چې دوی د خپلو لومړنيو حقونو او انساني آزاديو لکه زده کړو او کار کولو څخه هم محرومې شوې دي او واکمنې ډلې د افراطي مذهبي تګلارې له مخې په سياسي، اقتصادي، کلتوري او ټولنيزو برخو کې د ښځو ګډون بند کړی دی.

## ۹ د زده کړو حق ته د لاسرسي وضعيت

د لاسته راغلو معلوماتو پر بنسټ، دا چې په تېر يو کال کې د شخړو سيمې کمې شوې دي، ښوونځيو ته د هلکانو لاسرسی زيات شوی دی، خو لکه څرنګه چې ياده شوه، د طالبانو ډلې د فرمان په صادرولو سره له شپږم ټولګي څخه د پورته نجونو ښوونځي تړلي دي، او له کال څخه زياته موده کيږي چې په سلګونو زره ښځينه زده کوونکې له خپل لومړني حق (تعليم) څخه محرومې دي. له بل پلوه، د تېر يوه کال په جريان کې د تعليمي او تحصيلي مرکزونو په سلګونه مجرب او مسلکي کادرونه، د امنيتي تهديدونو له امله نيږدې او لرې هيوادونو ته د پناه غوښتنې په موخه تللي دي، په دې ترتيب سره تحصيلي مرکزونه، په ځانګړي ډول پوهنتونونه د علمي کادرونو څخه خالي شوي دي.

طالبانو د سختو مقرراتو په وضع کولو سره په ځانګړي ډول د نارينه او ښځينه زده کړيالانو د ټولګيو بېلتون او د ښځينه زده کړيالانو د حجاب په اړه پلټنو، عملاً له زرګونو ښځينه زده کوونکو څخه د زده کړو فرصت اخيستی دی. په ټول هيواد کې په ځانګړي ډول د هيواد په سويل لويديځه برخه کې په پوهنتونونو او تحصيلي مرکزونو کې د محصلينو ګډون کم شوی دی. د بېلګې په توګه، په کندهار ولايت کې د لوړوزده‌کړو په خصوصي مؤسسو کې د مني سمستر په کانکور ازموينه کې د زده کړيالانو شمېر تر ۷۵٪ پورې لړ شوی دی. پر دې سربېره، د طالبانو د لوړوزده‌کړو وزارت، د اسلامي امارت د ايډيالوژيکو باورونو پر بنسټ په تعليمي او تحصيلي نصاب کې بدلونونه راوستي دي، د بېلګې په توګه مخکې په يوه څلور کلنه دوره کې ۸ کريډېټه اسلامي ثقافت مضمون لوستل کېده، خو اوس يې دا ۲۴ کرډېټو ته پورته کړی.

همدارنګه، د طالبانو اسلامي امارت په تېر يوه کال کې زيات له ديني مدرسو او مذهبي زده کړو څخه ملاتړ کړی دی او عملاً يې د عصري تعليمي نظام سره مخالفت کړی دی. لکه په غور ولايت کې د طالبانو سيمه ييز حکومت اعلان کړی چې د دې ولايت د ملکي او نظامي برخو کارکوونکي مکلف دي چې په مياشت کې د خپل معاش يوه سلنه ديني مدرسو ته ورکړي. د پورته ټولو يادو شويو مواردو او په افغانستان کې کورنی اقتصادي ستونزې د دې لامل شوې دي چې پر شرايطو برابرې زيات شمېر نجونې او هلکان، ښوونځيو او پوهنتونونو ته د تګ فرصت له لاسه ورکړي.

## ۱۰ روغتيايي خدماتو ته د لاسرسي وضعيت

پر افغانستان د طالبانو د اسلامي امارت د دويم ځل واکمنېدو اغېزو او بحران، د روغتيايي خدماتو وړاندې کوونکي مرکزونه هم په شدت سره تر اغېز لاندې راوستي دي. له يو اړخه د مالي سرچينو، پرسونل، تجهيزاتو او درملو کمښت روغتيايي خدماتو ته د زياتو خلکو لاسرسی محدود کړی دی، له بل پلوه د سختو مقرراتو موجوديت په ځانګړي ډول د ښځو لپاره جدي ستونزې او ننګونې رامنځته کړې دي. لکه، طالبانو د هيواد په کچه اعلان کړی چې نارينه ډاکټران بايد ښځينه ناروغانې معاينه او تداوي نکړي او هم ښځې بې له شرعي محرم او حجاب څخه نشي کولای چې له کوره بهر ووځي او روغتيايي خدمات تر لاسه کړي. د رواداري سازمان موندنې ښيي چې د روغتونونو، کلينيکونو او روغتيايي مرکزونو زيات شمېر ډاکټرانو د طالبانو له واکمنېدو سره سم خپلې دندې پرېښې دي او د درملو بيه هم په بازار کې په بېساري ډول لوړه شوې ده، چې پدې سره يې په ټوليز ډول روغتيايي خدماتو ته د خلکو لاسرسی کمرنګه کړی دی او د هيواد په کچه د ميندو د مړينې کچه لوړه شوې ده.

## ۱۱ د شغلي فرصتونو نشتوالی، د بېوزلۍ او اقتصادي ستونزو زیاتوالی

پر افغانستان د اسلامي امارت له واکمنېدو سره سم، زیات شمېر هغو کسانو چې په تېر حکومت، په ځانګړي ډول په امنیتي او دفاعي بنسټونو کې یې کار کاوه، د ډار او شړلو له امله ونشول کولای چې خپلو دندو ته ادامه ورکړي. همدا راز، خبریالان او ځینې هغه کسان چې مخکې یې د غیردولتي مؤسساتو سره کار کاوه، خپلې دندې د لاسه ورکړي دي. په دې سره د شغلي فرصتونو کمښت د دې لامل شوی دی چې د کورنیو د ژوند او اقتصاد وضعیت د لویو ستونزو او ننګونو سره مخ شي. په اوسني وخت کې د پوهنتونونو څخه د فارغینو محصلانو، خبریالانو او د تېر حکومت د کارکوونکو لویه برخه بې کاره شوي دي او هم د هیواد د اوسنیو ناوړه حالاتو څخه د ډلیز مهاجرت لویه څپه د یوه کال راهیسې نړدې او لیرې هیوادونو ته پیل شوې ده.

د ملګرو ملتونو د وروستي راپور له مخې اوسمهال ۳،۲ میلیونه ماشومان له سؤتغذیې څخه کړېږي او ۱۴ میلیونه نور ماشومان د سؤتغذیې له خطر سره مخ دي. دا پداسې حال کې ده چې د طالبانو ډلې په ټول هیواد کې خلک د زکات او عشر په ورکړې مجبوره کړي دي او په ځینو ولایتونو لکه مزارشریف کې یې کورنیو ته امر کړی چې د سرتېرو درې وخته ډوډۍ په ورکوي.

## ۱۲ پر خلکو د درنو مالیاتو او اخاذۍ وضع کول

طالبانو تر اوسه ښودلې ده چې دوی په خپلو کړنو کې عام او تام آزادي لري او هیڅ بلې مرجع ته ځواب ویونکي نه دي. نه کوم قانون موجود دی چې د دوی کړنې په ځانګړو اصولو پورې مقیدې کړي او نه داسې مرجع شته چې د دوی د کړنو څارنه وکړي. تر ټولو بده یې لا دا ده چې اداري سلسله مراتب شتون نلري. د بېلګې په توګه ځینې بنسټونه لکه د حج او اوقافو، د کرنې ریاست او ښاروالي هر یو په خپل نوبت او په خپله خوښه له خلکو څخه عشر راټولوي. لکه دایکندي په مرکز کې شېر حوزې ټاکل شوې دي چې هره حوزه له خپلې خوښې سره سم له خلکو سربېره پر دې چې د ۳۰۰۰۰ څخه تر ۳۵۰۰۰ افغانۍ عشر او زکات را ټولوي، خپل نور لګښتونه لکه د ژمي لپاره سون توکي هم له خلکو را ټولوي. په یو بل مورد کې یو سوداګر چې پلان یې درلود د افغانستان بانک نمایندګۍ ته خپلې پیسې ولېږدوي، د طالبانو له لوري نیول شوی او امنیه قوماندانۍ ته لېږدول شوی دی، یاد کس رواداري بنسټ ته وویل چې طالبانو د یو نیم میلیون افغانیو په بدل کې له بنده خوشې کړی دی. داسې راپورونه هم موجود دي چې د طالبانو ډلې د تېر کال په جریان کې په ځینو ولایتونو کې خلکو څخه د وسلې د لېږد په بهانه پېسې اخیستي او په دې سره یې زیاتي پیسې لاسته راوړې دي.

## ۱۳ د مذهبي او قومي لږکیو د بشري حقونو وضعیت

د تېر یو کال په جریان کې په ځینو ولایتونو کې د قومي او مذهبي لږکیو پر وړاندې زیات تروریستي او مرګوني اقدامات شوي دي. هزاره، اوزبیک او هندو باوره قومي او مذهبي لږکیود یادې مودې په جریان کې بېلابېل توپیري چلندونه تجربه کړي دي. د طالبانو ډلې په بېلابېلو ولایتونو لکه بدخشان کې د قومي او مذهبي لږکیو پیروان ځورولي دي. دې ډلې ته منسوب کسانو پر افغانستان د واکمنۍ په لومړنیو میاشتو کې د جعفري او سلفي مذهب پیروان له کورونو ایستلي دي او هغه یې شکنجه کړي او توهین کړي دي. دې ډلې په رسمي ډول د خلکو د عقایدو پلټنه پیل کړې ده، په ځانګړي ډول هغه وخت چې دوی پوه شي چې دا خلک په داسې مذهب نه دي لکه مور چې یو، د خلکو څخه یې پوښتنې پیل کړې دي او بیا یې ځورولي دي.

### اجباري کډوالي

یو وخت د افغانستان په بېلابېلو برخو کې زیات شمېر هندوانو ژوند کاوه، خو اوس د امنیتي ستونزو له امله د دې لویې برخې څخه لږ کسان په هیواد کې پاتې دي. د طالبانو ډلې د ۲۰۲۱ کال په سپټامبرکې په غزني ولایت کې د هندوانو یو معبد تخریب کړی دی او د معبد د بیا رغونې دوې پروژې یې هم درولې دي. سربېره پر دې، په کابل کې د هندوانو یو معبد هم د نامعلومو کسانو لخوا تخریب شوی دی. بالاخره، په کابل کې د هندوانو او سیکانو پر معبد باندې د یو مرګوني تروریستي برید له امله زیاته مرګ ژوبله اوښتې او زیات شمېر هندوباوران په ډلیز ډول وتلو ته اړ شوي دي.

همدارنگه، د لاسته راغلو مالوماتو له مخې، د ۲۰۲۱ کال په نومبر میاشت کې تر زرو زیات کسان د جوزجان په قوش تېپې سیمه کې چې ازبیکان او ترکمنان دي د طالبانو لخوا جبري کډوالۍ ته اړ شول، او مځکې، کورونه او مالونه یې په زور غصب شول. له بل پلوه، پر دایکندي باندې د طالبانو د ډلې له واکمنېدو وروسته، د یوه فرمان په صادرولو سره ۸۰۰ هزاره کورنۍ د پاتو، گیزاب، ناومیش او خدیر ولسوالیو څخه بې له دې چې څه له ځان سره واخلي، په اجباري ډول کډوالۍ ته اړیستل شول او وروسته یې کورونه ړنگ کړای شوه. یادو کورنیو چې یوازې یې له ځان سره د ۵۰ کیلو اوړو د لېږد اجازه درلوده، خپلو گاونډیو کلیو ته ښځایه شول.

سربېره پر دې، د ۲۰۲۱ کال د نومبر پر ۱۲ نېټه ۱۵ هزاره کورنۍ د دشت برچي د خیرآباد او نوآباد په سیمو کې چې د کابل په لویدیځه برخه کې موقعیت لري، په جبري ډول کډوالۍ ته مجبوره شول او وروسته یې کورونه ړنگ کړای شول. همدا راز، طالبانو په مزار شریف کې د ولیعصر ښارگوټي اوسېدونکو ته چې هزاره شعیه خلک دي، د سیمې د پرېښودو اخطار ورکړی دی. د سیمه یېزو سرچینو د مالوماتو له مخې د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر په میاشت کې د طالبانو محکمې د دې ښارگوټي د تخلیې جواز ورکړی دی او ځینې برخې یې تخریب کړې دي. د سیمې اوسېدونکي وایي چې د دوو لسیزو راهیسې په دې سیمه کې ۴۰۰۰ کورنۍ اوسېږي.

### تروریستي بریدونه

د تېر یو کال په جریان کې ۱۳ مرگوني او هدفي تروریستي بریدونه د افغانستان پر هزاره اوشیعه هیوادوالو باندې ترسره شوي دي، چې له امله یې ۷۰۰ کسان ټپیان او وژل شوي دي. همدارنگه د هندوانو پر یو عبادتځای د یو تروریستي برید له امله یو تن ووژل شو او ۷ کسه نور ټپیان شول. د دې تر څنگ، تېر یوه کال کې په قندوز کې د اهل سنت صوفیانو پر خانقاه دوه لوی تروریستي بریدونه شوي دي، چې په پایله کې یې ۹۳ لمونځ کوونکي وژل شوي او ۱۸۳ تنه نور ټپیان شي دي.

د یادونې وړ ده چې د داعش خراسان ډلې پر قومي او مذهبي لږکیو د ۶ بریدونو مسؤلیت پر غاړه اخیستی. د طالبانو ډلې د خپلې یو کلنې واکمنۍ په جریان کې د خلکو د امنیت په تامین کې، په ځانگړي ډول د قومي او مذهبي لږکیو، د امنیت په برخه کې مسؤلیت سم نه دی ادا کړی او اغېزناک اقدامات یې نه دي ترسره کړي. د موجوده شواهدو پر بنسټ، لکه څرنگه چې پر هزاره او شیعه هیوادوالو مرگوني تروریستي بریدونه شوي دي، دا کېدای شي چې نسل وژنه وگڼل شي.



# دویمه برخه

## د نړیوالو بشردوستانه حقونو نقض

د رواداري بنسټ د څارنې پايلې ښيي چې د تېر یو کال په جريان کې د وسلوالو شخړو څارونکي نړيوال اصول او قواعد نقض شوي دي، له همدې امله ملکي کسان له مالي او ځاني پلوه له تاوتريخوالي او جدي زيانونو سره مخامخ شوي دي.

## ۱ ملکي مرګ ژوبله

که څه هم وسلوالې شخړې او امنيتي پيښې د پخوا په پرتله په تېر یو کال کې کمې شوې وې؛ مګر امنيتي پيښې او تروريستي بريدونه بيا هم د پام او اندېښنې وړ دي. د ۲۰۲۱ کال د اګست مياشتې له ۱۵ نېټې څخه تر ۲۰۲۲ کال د اګست تر ۱۵ نېټې په ټوليزه توګه ۲۷۲۲ تنو ملکي خلکو، ۱۷۹۲ نارينه، ۱۱۰ ښځينه، ۵۲۵ ماشومان او ۲۹۳ تنه نور چې هويت يې نه دی څرګند شوی د تېر کال په جريان کې په افغانستان کې وژل شوي او ټپيان شوي دي. له دې ډلې، ۱۱۷۴ تنه ۸۶۲ نارينه، ۴۸ ښځينه، ۲۴۹ ماشومان او ۱۵ تنه نور چې هويت يې څرګند نه دی وژل شوي دي، او ۹۳۲ تنه نارينه، ۶۲ تنه ښځينه، ۲۷۶ تنه ماشومان او ۲۷۸ تنه نور چې هويت يې څرګند نه دی، ټپيان شوي دي، چې په ټوليزه توګه ۱۵۴۸ تنه کيږي.

### د امنيتي پېښو په تفکيک د ملکي تلفاتو ارقام

د جوړو شويو چاوديدونکو موادو او د طالبانو او د افغانستان د پخواني اسلامي جمهوري دولت ځواکونو له لوري د پخوانيو کلونو څخه پاتې سرګلولو، او د طالبانو له خوا د پخوانيو سرک غاړې پاتې ماينونو په پايله کې ۲۸۹ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ۷۲۸ تنه نور ټپيان شوي دي، چې د دې پېښو ډېری قربانيان ماشومان تشکيلوي.

د تېر یو کال په جريان کې د هغو ځان وژونکو بريدونو له امله چې مسؤليت يې داعش خراسان ډلې پر غاړه اخستی په ټوليزه توګه ۳۵۶ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ۶۲۶ نور ټپيان شوي دي. سربېره پر دې، ۴۶۳ تنه چې ډېری يې د پخواني حکومت کارکوونکي تشکيلوي، د طالبانو او يا هم د نامعلومه عاملانو له لوري ترور او ۱۹۳ تنه نور ټپيان شوي دي.

د رواداري بنسټ د موندنو له مخې، طالبان د ټول هيواد په کچه، په ځانګړې ډول په کندهار، دايکندی، ننګرهار، پنجشير، کابل، پکتيا، غور ولايتونو او بلخاب ولسوالی کې د دغه ډول وژنو مرتکب شوي دي. همدارنګه، په تيرو ۱۲ مياشتو کې، په خوست او کنړ ولايتونو کې د پاکستاني ځواکونو په هوايي بريدونو کې د ۱۵ ماشومانو په ګډون ۴۷ تنه ملکي وګړي وژل شوي دي، او همدارنګه کابل ولايت کې د حامد کرزي نړيوال هوايې ډګر ته نژدې د آمريکايې ځواکونو په هوايي بمبار کې د ۷ ماشومانو په ګډون ۱۰ تنه ملکي وګړي وژل شوي دي.

همدا راز، ۱۰۰ تنه ملکي هيوادوال د طالبانو له خوا د سرپل ولايت په بلخاب ولسوالی او ۳۲ تنه په پنجشير ولايت کې وژل شوي دي. ترلاسه شوي شواهد ښيي چې پورته کسانو په وسلوالو فعاليتونو او شخړو کې هيڅ ډول نقش نه درلود.

## ۲ د جنګي اسيرانو وژنه

طالبانو د سرپل ولايت په بلخاب ولسوالی او پنجشير ولايت باندې د بريددونو په جريان کې هغه کسان چې خپلې وسلې يې پر ځمکه ايښې وې وژلي دي، د هغوی ۷ تنه په پنجشير او ۴ تنه په بلخاب ولسوالی کې په داسي حال کې وژل شوي چې وسلې يې پر ځمکه ايښې او طالبانو ته تسليم شوي ؤ.

## ۳ شکنجه او ناوړه چلند

د تېر یو کال په جريان کې د ملکي کسانو شکنجه او خلکو سره ناوړه چلند هم له هغو مواردو څخه دي چې طالبان د وسلوالو شخړو په جريان کې د هغه مرتکب شوي دي. څرنګه چې دغې ډلې پر بلخاب ولسوالی تر بريد وروسته او د خپل يو ناراضي قوماندان مولوی مهدي مجاهد د ځپلو په موخه د ښځو او ماشومانو په ګډون ملکي کسان چې په شخړو کې يې هيڅ ډول نقش نه درلود، تر تاوتريخوالي او ناوړه چلند لاندې راوستل. يوې سيمه ييزې سرچينې وويل چې خلک په بېلابېلو پلمو، لکه د وسلې ليږد، مولوي مهدي سره اړيکې او يا له مؤسساتو څخه د کومک راوړلو په تور شکنجه او تر ناوړه

چلند لاندې راغلل. د بېلګې په توګه، طالبانو په ترخوچ، ایلدر او تخشار کې څلور تنه د سلاح لرلو په تور ونیول او شکنجه یې کړل.

## ۴ جنسي تیری

د سرپل ولایت بلخاب ولسوالۍ کې د طالبانو له لوري پر ښځو او انجونو د جنسي تیري جدي ادعاوې موجودې دي. څرنګه چې یوې سیمه ییزې سرچینې طالبانو ته منسوب یو شخص څخه نقل قول کړی، چې د طالبانو وسلوالو کسانو د بلخاب ولسوالۍ په مرکز زوړ بازار (بازار کهنه) کې پر یوې ښځې په داسې حال کې جنسي تېری وکړ، چې مېړه یې هم ورسره ؤ. همدارنګه، د جنسي تیري نورې ادعاوې هم راپور شوې دي چې د شپنيو تلاشیو په جریان کې رامنځته شوي دي.

## ۵ په ملکي کسانو پورې د اړوندو اموالو عمدي تخریب

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د تېر یو کال په جریان کې پر شخړو باندې د ناظرو نورو اصولو او قواعدو تر څنګ چې نقض شوي دي، په ملکي کسانو پورې د اړوندو اموال هم په عمدي یا قصدي ډول تخریب شوي او زیان یې لیدلی دی. د بېلګې په توګه، د طالبانو ډلې د سرپل ولایت پر بلخاب ولسوالۍ تر برید وروسته، د دې ولسوالۍ د بازار په شمال ختیځه برخه کې چې د دې بازار لویه برخه ګڼل کېده تخریب کړه. هغوی په قصدي توګه یو راکټ فیر او نږدې تیلو پمپ ته یې اور اچولی او تخریب کړی یې دی، چې له امله یې یو سل او څلویښت هټۍ وسوځول شوې.

همدارنګه، د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې، د اوسیدو دوه کورونه د بلخاب ولسوالۍ په خالر سیمه کې د طالبانو له خوا بمبار شوي او په بشپړه توګه له منځه تللي دي. د دغو کورونو یو تن مالک د رواداري بنسټ ته ویلي چې هغوی د ګنده جیو او مرغوچ سیمو ته ایستل شوي دي او طالبانو د هغوی کورونه بمبار او تخریب کړي دي. سربېره پر دې، د ۲۰۲۲ کال د اګست پر ۱۵مه نېټه څلور د اوسیدو ځایونه د پنجشیر ولایت په پریان ولسوالۍ کې د طالبانو له لوري بمبار او اوسیدونکي یې له هغه ځایه په اجباري ډول پرېښودلو ته اړ کړل شوي دي.

## ۶ د عمومي او خصوصي شتمنیو چور او چپاول

د اعتبار وړ راپورونه شتون لري چې پر ولایتونو باندې د طالبانو د واکمنۍ سره سم، د خلکو شخصي وسایل او شتمنۍ چور او د هغوي کورونه او ملکیتونه یې په زور غصب کړي دي. څرنګه چې طالبانو پورې اړوند کسانو په ټول هیواد کې د پخواني حکومت د مقاماتو کورونه او د اوسیدو ځایونه تصرف کړه او هغه یې د نظامي ځایونو او یا هم شخصي هدف لپاره وکارول. همدارنګه، طالبانو ولایتونو ته د داخلیدو په لومړیو ورځو کې دولتي اموال او امکانات چور او یا هم یې ورڅخه غلطه استفاده وکړه.

په دایکندي ولایت کې حتی ځیني دولتي ادارات لکه د اطلاعاتو او کلتور او ښار جوړوني ریاستونه، د طالبانو تر داخلیدو وروسته تر زیاته وخته پورې د سیمه ییزو مسؤلو کسانو د کورنیو په اختیار کې وه او په دغه ځایونو کې آن پسونه، غوایې او چرګان ساتل کیده. له سیمه ییزو سرچینو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، طالبانو تر ۷۰ زیات تېز رفتار موټرونه لکه فیلډر، کرولا، صرف او ټونس د بلخاب ولسوالۍ له مرکز، ۷۰ عراده موټرسایکلونه د سرخک بلاغ، ۶۵ عراده نور موټرسایکلونه د دې ولسوالۍ د ګلورز کلي څخه غلا او وړي دي.

د سیمه ییزو سرچینو د معلوماتو له مخې، طالب ځواکونو د خلکو د کورونو د تلاشۍ پر وخت قیمتي توکي، جواهرات او نغدې پیسې هم چور کړې دي. د رواداریۍ موندنې ښیې، چې طالبانو د ولایتونو د مرکزونو تر سقوط وروسته د پخواني حکومت کارکوونکو پورې اړوندو شتمنیو په چور لاس پورې کړی او د نورو کسانو شخصي اموال یې هم په زور غصب کړي دي. څرنګه چې د پخواني حکومت د مقاماتو د استوګنې د ځایونو تصرف هغه مورد و چې په ټولو ولایتونو کې، په ځانګړې توګه کابل، کندهار او هرات کې رامنځته شوی، په ورته وخت کې، راپورونه شته چې طالبانو په کندهار کې د پخواني حکومت د امنیتي بنسټونو کارکوونکو پورې اړوند اموال چور کړي دي.



# درېیمه برخه

## پایله او وړاندیزونه

هغه څه چې په تېر یو کال کې د طالبانو د اسلامي امارت د واکمنۍ په اوږدو کې پر افغانستان تېر شول د دې څرګندونه کوي چې واکمن مقامات د بشر حقونو له موازینو سره سم جدي چلند نه لري او د ځواب ویلو له احساس څخه په خوندي ډول په پرله پسې توګه د هیوادوالو د بنسټیزو حقونو د سرغړونو مرتکب شوي دي.

اوس چې د طالبانو د دویم ځل واکمنۍ څخه تر یو کال زیات وخت تیریږي، طالبانو د ښځو د محرومیت د تګلارې په اختیارولو د شرایطو وړ زرګونه نجونې ښوونځي ته له تګ او کار کولو له حقونو څخه چې د ډیرو بنسټي حقونو څخه ګڼل کیږي، محرومې کړې دي. افغانان د یادې مودې را په دې خوا، د هغه څه برعکس چې دعوه یې کیږي، تر ټولو ټیټ رواني امنیت او خوندیتوب لري؛ ځکه چې په طالبانو پورې اړوند کسان د نړیوالې ټولنې او نورو څارونکو مراجعو په نه شتون کې د پخواني حکومت د کارکوونکو، د بشري حقونو د مدافعینو او مدني فعالانو څخه په غچ اخیستلو اقدام کوي او یاد کسان نیسي، شکنجه او ځوروي یې او حتی وژني یې، چې دغو خپلسریو په ټول هیواد کې د وحشت او ډار فضا رامنځته کړې ده.

سربېره پر دې، داخلي قوانین، په ځانګړې توګه اساسي قانون، چې د اتباعو د اساسي حقونو تضمین کوونکی دی ځنډول شوی، او همدارنګه، د پاملرنې وړ مدني او د بشري حقونو مدافعو بنسټونو خپل فعالیتونه درولي دي، چې له همدې امله د بشر حقونو د نقض د قربانیانو لپاره عدالت ته لاسرسی ستونزمن او تقریباً ناممکن شوی دی.  له بل پلوه، د طالبانو له خوا پر هیواد د ډار او وهم فضا واکمنه ده او په سختۍ سره د سیاست پلي کولو په هیواد کې د زیات شمېر رسنیو او مطبوعاتو، او د مدني او کلتوري ټولنو فعالیتونه درولي دي، چې له امله یې د بیان آزادي او مطبوعات چې د تېرو دوه لسیزو د مهمو لاسته راوړنو څخه شمېرل کیدل، د هرې ورځې په تیریدو لا پسې محدود شوي دي.

دا مهال نه هیوادوال او نه هم رسنۍ د خپلو افکارو د بیان جرئت لري، چې له امله یې رسنۍ د خپلواکو او بې پرې اطلاعاتو له خپریدلو څخه ډډه کوي. دې وضعیت د هیوادوالو او واکمنو مقاماتو تر منځ د رغنده خبرو اترو امکان په شدت سره کم کړی او د اصلاح او تغیر لپاره یې هیلې په جدي توګه زیانمنې کړې دي.

قومي او مذهبي لږکي هم د امنیتي ګواښونو له امله خوندیتوب نلري. څرنګه چې د طالبانو سیمه ییزو واکمنو په دایکندي، ارزګان، جوزجان، بلخ او کابل کې سلګونه هغه کورنۍ چې په ازبیک، ترکمن او هزاره قومونو پورې اړوندې وې په اجباري توګه کډوالۍ ته اړیستې دي او د هغوی اموال او شتمني یې چور او کورونه یې هم ور تخریب کړي دي.

د دغو پېښو ټولګه دا ښیي چې افغانستان په تېر یو کال کې د بشر حقونو له بحران سره مخامخ و او واکمنو مقاماتو د نړیوالو بشري حقونو ارزښتونو او اصولو ته هیڅ ډول التزام او تعهد نه دی عملي کړی. له بل پلوه، د نړیوالې ټولنې د بې تفاوتۍ زیاتوالی او د ملګرو ملتونو سازمان منفعل رول، چې یواځې یې پیښې او قضیې څارلې دي، د اوضاع د خرابوالي سره نوره هم مرسته کړې ده، او طالبانو ته یې له بشري حقونو څخه د سرغړونو ډیر فرصت برابر کړی دی.

## وړاندیزونه

رواداري بنسټ د بشر حقونو د پراخو او دوامدارو سرغړونو د مخنیوي په موخه لاندې موارد د خپلو مهمو وړاندیزونو په توګه واکمنو مقاماتو او نړیوالې ټولنې ته وړاندې کوي.

### ۱ واکمنو مقاماتو ته

**الف:** افغانستان د بشر حقونو ځینو کنوانسیونونو او نړیوالو الزامي سندونو سره ملحق شوی دی، چې له حقوقي پلوه، او په ځانګړي ډول، د نړیوال مسؤلیت د تداوم د اصل پر بنسټ، طالبان د واکمنو مقاماتو په توګه چې اوسمهال سیاسي قدرت په لاس کې لري په یادو اسنادو کې د راغلو تعهداتو پر اجرا مکلف ګڼل کیږي او له هغو څخه سرغړونه حقوقي پایلې له ځان سره لري.

**ب:** طالبان د واکمنو مقاماتو په توګه د بشر حقونو د سرغړونو پېښو، لکه پر قومي او مذهبي ډلو خونړيو تروريستي بريدونو په اړه بايد ځواب ويونکي وي، او د ټولو هيودوالو د امنيت د خونديتوب لپاره بايد اغيزناک اقدامات وکړي.

**ج:** د افغانستان د وګړو د بشري حقونو د نقض لاملونه او افراد بايد ځواب ويونکي کړای شي. د بشر حقونو څخه د سرغړونو قضيې دې په هر اړخيزه توګه د واکمنو مقاماتو له لوري وڅېړل شي او عاملان او مرتکبين يې مجازات شي.

**د:** په ټول افغانستان کې دې زده کړو ته د لاسرسي حق د پلي کولو په موخه د ټولو مستحقو نجونو د ښوونځيو د بيا پرانيستلو لپاره لازم اقدامات ترسره شي.

**هـ:** د ښځو پر بنسټيزو حقونو وضع شوي ټول محدوديتونه لرې شي، په آزاده توګه د تګ راتګ حق او په عمومي فضا کې د هغوی شتون ومنل شي او په دې ترتيب، په ټولو ټولنيزو، سياسي، کلتوري او اقتصادي برخو کې دې په ټول هيواد کې ورته د فعال ګډون زمينه برابره شي.

## ۲ نړيوالې ټولنې ته

**الف:** د بشر حقونو نړيوالو او سيمه ييزو سازمانونو څخه غواړو چې په افغانستان کې د بشر حقونو د روان وضعيت څخه په دوامداره او منظمه توګه څارنه وکړي او په پراخه توګه د بشر حقونو څخه د سرغړونو د تکرار د مخنيوي لپاره په ګډه اقدام او د عدالت غوښتنه وکړي.

**ب:** د نړيوالو اغېزلرونکو رسنيو او مطبوعاتو څخه غواړو چې په اوسنيو شرايطو کې چې د افغانستان خلک بيړنيو مرستو ته اړتيا لري، په دې هيواد کې د بشر حقونو روانو مسايلو او ستونزو انعکاس ته ډيره پاملرنه او تمرکز پرې وکړي.

**ج:** د نړيوالو او سيمه ييزو مرسته کوونکو بنسټونو څخه غوښتنه لرو چې د افغانستان د خلکو فقر، ناداری او بيکاری ته په کتنې سره په بيړني ډول اغيزمن اقدام وکړي.

**د.** د ملګرو ملتونو سازمان د بشر حقونو له شورى څخه غواړو چې د خپلواکو او بې پرې ذيصلاح مراجعو له خوا په افغانستان کې د هزاره او شيعه هيوادوالو د نسل وژنې په اړه د څېړنو زمينه برابره کړي.

**هـ** د سيمې او نړۍ له هيوادونو غوښتنه کوو چې طالبانو سره د تعامل او رفتار بنسټ د بشر حقونو بنسټيز اصولو ته د درنښت له مخې وټاکي، او په دې ترتيب، هغوی له بشر حقونو څخه د پراخې سرغړونې پر وړاندې ځواب ويونکي کړي.

**و.** د اسلامي هيوادونو څخه ځانګړې غوښتنه کوو چې د اسلامي زده کړو او تعليماتو په چوکاټ کې، او همدارنګه د اسلامي بشري حقونو په اعلاميه کې راغلو ارزښتونو او مفادو ته په پاملرنې، د افغانستان د خلکو بنسټيز حقونه، په ځانګړي ډول د زده کړو او کار حقونو ته د ښځو لاسرسي لپاره اقدام او فعاله عدالت غوښتنه وکړي.

**روادارى**

د برابر او سوله ييز افغانستان لپاره